# The short review of Metaphoric love in the Poetry of Qambar Ali Khan

# د قنبر علي خان په کلام کښې د مجازي عشق يوه تته ننداره

Dr. Nasrullah Majnoon*
Mr. Tufil Ahmed (Zaryab Yousafzai)**

ABSTRACT

Qambar Ali Khan belongs to the 3rd period of the Pashto Literature. He is the follower of Mir Anwar Shah, and has the colors of the poetry resembled to the colors of Mir Anwar Shah. His poetry has the colors of ethics, love and affection. This paper is discussing the colors of metaphoric love in the poetry of the mentioned poet. Moreover it discusses different aspects of love and affection with different angles and different style. The date of his death is also mentioned and with the help of date of death we have tried to fix his date of birth as well.

**Keywords:** Pashto literature, Follower, 3rd period, Ethics, Affection, Metaphoric, Resemble,

د خيبر پښتونخوا جنت نظير سيمې پښتو شعروادب ته بلها نوموړي شاعران او اديبان زيږولي دي. که يو پلؤ په دغو کښې د خوشحال خان خټک په رنګ ننګيالے، جنګيالے او فرهنګيالے د رحمان بابا په شان د اولس نباض او حُسن و عشق و اخلاقو اعلىٰ معلم او د عبدالحميد مومند په څير موشګاف او د جدا مکتب و سبک سرخيل د قدر وړ نامې دي چې پښتو ژبه او ادب ئې په خپلو افکارو روښانه کړے دے نو بل اړخ ته د اورکزو سيمې هم د عارف کامل حضرت سيد مير انور شاه، قلندر افريدي او قنبرعلي خان وغيره په رنګ داسې علمي هستۍ زيږولي دي چې د څۀ تعريف محتاجه نۀ دي. هم په دغه جنت نظير سيمه اورکزو کښې قنبر علي خان هم د اعلىٰ پايې شاعر تېر شوے دے. د اورکزو قوم په حقله همېش خليل ليکي چې:

" د اورکزي قوم وجه تسميه دا بيانېږي چې د اورکزو مشر نيکۀ په هلکوالي کښې د خپلې قافلې نه ورک شوے وۀ. څۀ وخت چې قافلې د هغۀ لټون اوکړو او هغۀ ئې بيامونډو، نو د

---

* Assistant Professor , Department of Pashto, IC Peshawar
** Lecturer, Department of Pashto, IC Peshawar

هغوي د خولې ناڅاپه"ورک زوے" اووتو او ورو ورو دا نوم "اورکزے " شو. دغه نه پس د هغۀ اولاد په اورکزي قوم مشهور شو".[1]

قنبرعلي خان د پښتو ژبې او ادب د درېم دور سره تعلق لري چې د اورکزۍ قبيلې د عبدالعزيز خېلو د څانګې د باقي خېلو په ښاخ کښې د سرور خان په کور کښې د تيراه د مشهورې درې"دره مني خېل" په کلي کلايه کښې پېدا شوے ؤ. د زېږېدنې نېټه ئې نۀ ده معلومه ولې د مړينې نېټه ئې معلومه ده چې د هغه استاذ پير کامل حضرت سيد مير انور شاه بابا د هغۀ په مرګ په يوه غمژنه مرثيه کښې ورکړې ده لکه چې وائي:

د جمعـــــې شـــپه د رجـــب چـــې يولســـم ؤ
پـــه بـــاقي عـــالم قنبـــر يښـــے قـــدم ؤ
لـــه دنيـــا ئـــې رحلـــت اوکـــړو و عقبٰـــي تـــه
کـــور پـــه کـــور پـــه همګـــي دوســـتانو غـــم ؤ
انـــور شـــاه دا فاتحـــه دا ســـتا پـــه روح کـــا
چـــې همـــېش پـــه ملاقـــات دا ســـتا خُـــرم ؤ
زر د دوه ســـــوه اووم کــــــال د هجـــــرت ؤ
ميـــــر انـــور دا غـــــزل وېلـــــے د مـــــاتم ؤ[2]

د مرثيې په اخري شعر کښې د قنبر علي خان د مرګ نېټه 1207ھ بمطابق 1792ء ده او دا هم وئيلے شي چې هغۀ سل کلن ژوند کړے ؤ نو په دې حساب به د هغۀ د زېږېدنې نېټه 1106ھ بمطابق 1694ء شي.

د قنبر علي خان شاعري د ژوند په همه اړخونو اړه لري که يو اړخ ته د هغۀ شاعري د سلوک و عرفان په نوراني موضوع ښۀ سمبال ده نو بل اړخ ته هغۀ د حُسن و عشق منلے شوے شاعر هم دے. که د هغۀ په شاعرۍ د خپل پير و مُرشد پير کامل حضرت سيد مير انور شاه ژور اثرات جوت دي لکه چې وائي:

کامـــل پيـــر دے انورشـــاه صـــاحب بـــاور کـــړه
زۀ قنبـــر علـــي ئـــې څکـــه دامـــن ګيـــر يـــم[3]

او یا دا شعر چې:

انــــور شـــــاه مــــې کــــړه د زړۀ ائینــــه صــــافه
کائنــــات پــــه کښــــې لیــــدۀ شــــي قــــاف تــــر قافــــه4

حالانکې په شروع شروع کښې قنبر علي خان ډېر سرکشه او نافرمانه ؤ. د انور شاه بابا سره ئې ډېره دُشمني وه او څو څو ځله ئې ورته د مرګ دمکیانې هم ورکړې وې. د دواړو روحاني رشتې ته ډاکټر مقیل حسېن په دې ټکو ګوته نیسي:

*"قنبر علی خان اور جناب سید میر انور شاہ کے درمیان بہت زیادہ دشمنی تھی۔ قنبر علی خان کے دل میں اتنا بغض و عناد تھا کہ جب بھی سید میر انور شاہ کے گاؤں کے قریب سے گزرتا تو اپنا مُنہ چادر میں چھپاتا تھا یا پھر لنگی کے شملے کو اپنی آنکھوں کے اوپر ڈالتا تاکہ سید میر انور شاہ کے گھر کی دیواروں کو نہ دیکھ سکے اور جب سید انور شاہ کے حلقہ ارادت میں آگیا تو پھر بھی اپنے چہرے کو چھپاتا اس لیے کہ سید محترم کے گھر کی دیواروں کا پردہ ختم نہ ہو جائے۔"*[5]

ترجمه: د قنبر علي خان او سید میر انور شاه تر مېنځ ډېره زیاته دښمني وه.د قنبر علي خان په زړۀ کښې دومره بغض او عناد ؤ چې کله به د سید انور شاه د کلي نه تېرېدو نو مخ به ئې په څادر پټوو او یا به ئې د لونګۍ شمله په سترګو اچوله چې د سید انور شاه د کور په دېوالونو ئې سترګي نه لګي.خو چې کله د سید انور شاه په حلقۀ ارادت کښې شامل شو نو بیا به ئې د دې وجې مخ پټوو چې د سید محترم د کور د دېوالونو ستر مات نۀ شي.

یو اړخ ته د عقیدت دغه حال دے چې فنا في المحبوب درجې ته رسي او پیا په خپل کلام کښې هم دغه رنګونه جوت لري خو بل اړخ ته د هغۀ شاعري د مجازي عشق په خوږو ډېره خوږه ده چې دلته ئې یوه تته شان جائزه وړاندې کولے شي.

د دنیا په مخ به داسې شاعري نۀ وي چې د حُسن و عشق د بیان نه به خالي وي ځکه چې عشق یوه داسې موضوع ده چې نۀ زړېږي، نۀ رد کېږي او نۀ ختمېږي. په دې ټول کائنات د عشق واکمني چلېږي. دا ټولې هنګامې د عشق له وجې ګرمې دي. د کائنات په هره لحظه او هر څیز کښې د حُسن و عشق ننداري غورځنګونه وهي. څوک ئې په یوه طریقه محسوسوي او څوک ئې په بله طریقه، ځکه چې د هر چا جدا جدا ذوق وي او د خپل خپل ذوق تسکین د پاره خپلې خپلې لارې پکاروي.

دا یو کوټلې حقیقت دے چې دا جهان د عشق له مخه آباد دے لکه څنګه چې د پښتو ژبې او ادب صوفي شاعر عبدالرحمان بابا د عشق په حقله لیکي:

دا جهـــان دے خـــدائے لـــه عشـــقه پیـــدا کـــړے
د جملـــــه ؤ مخلوقـــــاتو پـــــــلار دے دا6

دغه رنګ نظریه قنبر علي خان هم لري لکه چې وائي:

که څوک اولولي یو بیت د عشق له بابه
پرې به کښل کاندي د عقل زر کتابه
په هر څۀ کښې د عشق هسې اثر پرېوت
لکه نور چې ښکاره کېږي له حجابه
زۀ ئې کوم یو انتخاب درته اووایم
دفترونه دي د عشق له انتخابه
سر انجام په عشق کښې بې سر انجامي ده
قنبر څکه د عشق کار کا بې اسبابه7

وئیلے شي چې شاعران د معاشرې معماران او د ژوند ترجمانان وي. د خپل حساسیت له وجې دوي د عشق تنداري د هر چا نه په ښۀ او جدا ډول محسوسوي. هم دغه عشقیه محسوسات د شاعر ادیب خیالات، جذبات او احساسات راپاروي او د خپل ځان د ستائنې د پاره ئې په منظوم کلام لیکلو مجبوره کوي چې دغه شعرونو ته بیا عشقیه شاعري وئیلے کېږي.
د هر شاعر په کلام کښې عشقیه شعرونه موجود وي چې دا یوه فطري خبره ده او دا به ضرور د شاعر په کلام کښې وي، څکه چې په کومه شاعرۍ کښې عشقیه مضامین یا د عشق واردات نۀ وي بیان شوي نو هغه څوک نۀ خوښوي. قنبرعلي خان عشق په دې ټکو بیانوي:

چې خبر شولَم د عشق له لېونتوبه
ویښ ئې کړلَم د غفلت د رنځ له خوبه
که ئې سرومال د عشق په سودا ولېږي
عاشق نۀ وائي له عشقه توبه توبَه8

قنبر علي که هر څو په نوراني مجلس کښې ژوند کړے دے ولې بیا هم د دنیا د رنګینو نه محظوظ شوے دے. هغۀ د حُسن شاعر دے په حُسن ورک لېونے دے. دا خبره د کاڼي کرښه

ده چې چرته حُسن وي هلته به عشق ضرور وي. دواړه لازم و ملزوم دي. قنبرعلي په حُسن مئين ؤ چې په ډاګه دغه اعلان کوي:

ما چې اوکاته دا ستا حُسن ګلرنګ ته
نور مې نۀ کاته په بېرته نام و ننګ ته
هم هغۀ عالم له عقله بې نصيب وي
چې ارام ښايي د مينې و ملنګ ته9

قنبر علي خان د حُسن پرستار وۀ. د خپل محبوب په حُسن ئې زړۀ داسې بائللے وۀ چې بې د خپل محبوبه ئې هيڅ قرار و ارام نۀ وۀ. د هغۀ محبوب لکه د چراغ پړقېدو او چراغ چې چرته بلېږي نو ضرور به پرې پتنګان خپل سرونه قربانوي. هغۀ هم په خپل محبوب پتنګ ؤ لکه چې دغه نقشه د شعر په خوږه ژبه راکاږي:

بې چراغه په بل څۀ کله پرېوځي
که مشعل د افتاب بل شي و پتنګ ته
هسې شان زما بې ياره آرام نۀ شي
که مې نور ښکلي اوبولي و پالنګ ته
سوړ دې زړۀ د رقيبانو په قنبر کړو
چې دې اوسپاره د هجر و نهنګ ته10

هر عاشق غواړي چې د هغۀ معشوق دې تل خوشحاله وي، د معشوق ټول غمونه دې د عاشق په سر وي، په معشوق دې چرته هم تود باد نۀ پرېوزي. په حُسن ورک لېوے قنبر علي د خپل محبوب د پاره هم دومره ښکلے د مينې وطن خوښوي:

چې مې ناست دلبر د ګلو په چمن وي
په ديدن ئې سترګې روښے د ګلشن وي
هر يو ګل ئې و ديدن ته آرائش کا
سوسن سروپائې اغوستې د سوسن وي
له پرتو ئې رڼا هسې زيبايي کا
چې پرې درسته شپه د ستورو انجمن وي
د قنبر علي د مينې وطن خوښ دے

که دا نور څوک خوښ خُرم پخپل وطن وي11

د هغهٔ په عشقيه شاعرۍ کښې هاغه ټول لوازمات شتون لري کوم چې د هغهٔ نه مخکښې شاعرانو په روايتي توګه پکار کړي دي لکه:

د هجر و فراق او بېلتون مضمون

په مينه کښې د عاشق د پاره د ټولو غټ ازمېښت د محبوب هجر يا فراق يا بېلتون وي چې هغه ئې په ژوند تنګ کړے وي. د محبوب ليدو ته لېواله ناست وي او په هره لحظه کښې د معشوق د ياد نه غافله نهٔ وي. قنبر علي خان هم دغه رنځ رنځولے دے لکه چې وائي:

بيا له ما دے ازاري صنم په څهٔ؟
نهٔ پوهېږم شي به خوښ خُرم په څهٔ؟
په ناحقه مې د ګرم په نامه بولي
خدائے خبر دے که به زهٔ ووم ګرم په څهٔ؟12

په مينه کښې تل عاشق د خپل معشوق نه په فرياد وي. سرې سترګې، پړسېدلې وروځې، ببر سر، خيرې او په اوښکو لوند ګرېوان د عاشق خاصه وي. د بې وفا جانان د لاسه مرګ ته شپې ورځې سبا کوي. دغه حالات قنبرعلي خان د شعر په ژبه بيانوي:

ګاه له خُلې ګاه مې د سترګو اوښکې درومي
چې د يار له غمه ښکته پورته ساه کړم
که د وصل په بهار ئې تازه ګُل ووم
د هجران په اور ئې اوچ لکه ګياه کړم13

په حقيقت کښې د هجران غم ډېر دروند وي چې زغمل ئې د هر چا کار نهٔ وي. په دې مېدان کښې بادشاهانو فقيرۍ قبول کړي دي، په دې کاروبار کښې ځينو خپل وطنونه، قام قبيله او کور کلے پرېښلے دے او ډېرو په کښې خپل سرونه هم قربان کړي دي. قنبرعلي دغه غم په دې ټکو يادوي:

په هجران يو دم ژوندون د عاشق نهٔ شي
پروانه څکه ځان اچوي چراغ ته
عاشقي بادشاه ګدا د يار د در کا
نظر نهٔ کاندي د خپل اصل اوجاغ ته14

هر عاشق غواړي چې څوک ورله د معشوق خبر خبر راوړي چې زړۀ ته ئې څۀ نا څۀ تسکین مېلاؤ شي، هم دغه رنګ د بېلتون له وجې قنبر علي خان نا اُمېده شوے دے د هجران په بستر سوے لوغړن څۀ داسې ارمان کوي چې:

دریغه راوړے یو خبر چا له دلداره
چې مې خلاص کړي له منت د هغه یاره
زۀ د عشق غمونو اوویستم له عقله
ګفتګویې مې هرګز نۀ شي له هوښیاره
نصیحت تعویذ مې څۀ ترې په غاړه
د هجران په بستر پروت یم بې قراره15

د رقیب، غماز او اغیار سره د تربګنۍ مضمون

عاشقانو ته په مینه کښې ډېرې ستونزې پېښېږي چې یوه لویه په کښې د رقیب، غماز یا اغیار په شکل کښې وي. ډاکټر اقبال نسیم خټک د رقیب په حقله لیکي:

"عاشقان رقیب خپل دُشمن او د خپلې مینې په لاره کښې ئې لوے خنډ ګڼي، حالانکې د انصاف تقاضا خو دا ده چې د محبوب سره د مینې کولو څومره حق چې عاشق ته حاصل دے هغه هومره رقیب ته هم حاصل دے. په نورو ټکو کښې هر عاشق د بل عاشق د پاره رقیب وي خو په شرط د دې چې د یوې معشوقې سره مینه کوي."16

دغه رنګ دا مضمون یو روایتي مضمون دے چې تقریباً د هر شاعر په کلام کښې موجود وي، ځکه چې دا قسم خلق د عشق په کاروبار کښې ضرور موجود وي، څنګه چې ژوند په ضِد روان وي دغه رنګ د عشق په لاره کښې هم خنډان موجود وي. قنبر علي خان هم دغه مضمون په ازاد متې پکار کړے دے لکه چې وائي:

په پرده زما د زړۀ ئې حُسن اونغښت
که ئې مخ نه حجاب نغښتے د چوتار دے
چرې نۀ چې د غماز په لاس ئې ورکړي
د عاشق د معشوق مینې نرے تار دے17

د مینې په مېدان کښې د رقیب او عاشق هنګامه تل ګرمه وي. عاشق د رقیب وینو څښلو ته ترږے ناست وي ځکه چې:

د رقیب د ناکړدو پناه د خدائے کړم
یار ئې بیا را ولاړ کړے دے و جنګ ته 18

عاشق چې کله رقیب د خپل محبوب په خوا کښې یوه لحظه اووینې نو دا د هغۀ د پاره د مرګ نه کمه نۀ وي. قنبر علي دغه حالات داسې بیانوي:

د لړم لاشۀ مې ماته شوه په سترګو
چې رقیب د یار په لور ننواتۀ
که هر څو به غمازانو غمازي کا
پخپل فضل ئې قنبر علي ساتۀ19

قنبر علي د رقیبانو هیڅ پروا نۀ کوي خو په دې شرط چې:

هیڅ پروا مې د اغیار په کجی نۀ شي
که په زړۀ کښې راته نۀ وي نیت د یار کج20

د زاهد ، مُلا ، خطیب او ناصح مضمون

د زاهد ، مُلا ، خطیب او ناصح مضمون هم زمونږ د ټولو کلاسیکي شاعرانو په زړۀ پورې موضوع پاتې شوې ده او لا دغه سلسله مخ په وړاندې روانه ده. په عشقیه شاعرۍ کښې دا موضوع ډېره خوښېږي چې هر شاعر پرې په خپل خپل انداز کښې طبع ازمایي کړې ده. دغه قسم خلق که هر څو نوراني مخلوق وي او د الله بندیانو ته سمه لاره ښایي ولې عاشقان دوي پټ رقیبان ګڼي او د وزګارو ګمان پرې کوي. قنبر علي خان هم په دغه ټولګي کښې شتون لري چې دغه موضوع ئې خپله کړې ده حالانکې هغۀ په عملي توګه هم په دغه ټولګي کښې شامل ؤ لکه چې خطیب ته وائي:

چرې نۀ په ناز اودۀ یاران بېدار شي
ډندوره د مرګ پرې ورو کوه نقیبه!
که د یار د خط و خال حرف په کښې نۀ وي
په منبر خُطبه اونۀ لولې خطیبه21

زاهدان که هر څو په شریعت کلک ولاړ وي او د دنیا دا فاني ژوند ئې نۀ شي دوکه کولے ولې قنبر علي بیا هم د خپل محبوب د ښائست په حقله وائي:

که پرتو دا ستا د مخ و مِهر اوشي
په ګداز مې لکه موم زړۀ د سندان کړې

زاهدان به زاهدۍ ئې وته شا کا
که د مهر مخ په لور د زاهدان کړي22
د قدوقامت مضمون
د محبوب د قدوقامت په حقله هر چا خپل خپل دريز وړاندې کړے دے. چا ورته د کجورې د ونې سره، چا د سروې د ونې سره او چا ئې د صنوبر، نښتر او چينار سره تشبيه ورکړې ده. قنبر علي خان هم په دغه مضمون کښې د مبالغې نه کار اخستے دے او د خپل محبوب قد ئې د شعر په ژبه مجسم کړے دے وائي:
سروقد که هر څو پورته پورته کېږي
ستا د قد سره به هېچرې سم نۀ شي23
بل شعر دے
سر پورته کول دا ستا د قد وَ بلندۍ ته
بې ګُلو بې باره ځکه سروصنوبر دي24
د زلفو، کاکلو يا وربل مضمون
زلفې هم د عشقيه شاعرۍ يوه غوره موضوع ده چې تقريباً هر شاعر ئې ستائينه او غندنه کړې ده. چا ورته تورې تيارې، چا ورته ګُورې وربځې، چا ورته ماران او چا ورته ښاماران وئيلې دي قنبر علي خان هم په دغه شاعرانو کښې دے چې زلفې ئې په بېلا بېل انداز کښې بيان کړې دي لکه چې وائي:
څو ژوندے په جهان ګرځم د خلاصي اُمېد مې نشته
چې مې يو ځله زړۀ بند شو ستا د زلفو په جاله کښې25
بل شعر دے
زلفې پيچاپيچ په رُخسارونو د دلبر دي
يا که ښاماران پراتۀ په ګنج د سيم زر دي26
بل شعر دے:
محبوبه چې اوربل خور کاندي پوهېږم
اور به بل د چا په کور کاندي پوهېږم27
د شونډو يا لبانو مضمون

د شونډو او لبانو مضمون هم شاعرانو ډېر بيان کړے دے. چا ورته د اور لمبې، چا د ګل غوټۍ، چا د ګلاب پاڼې، چا د سحر او مازيګر شفق او چا ورته د کوثر سره تشبيه ورکړې ده ولې قنبر علي په کښې ځانګړے مقام لري. په نويو نويو تشبيهاتو ئې د دغه مضمون رنګ او خوند يو په دوه کړے دے لکه چې دا شعرونه ئې ځانګړے مقام لري:

د اشنا د خوږو لبو څهٔ صفت کړم
په تش خيال مې ژبه ونښته له سر پشه28
لکه خالص شراب لذت کوي له جام سره
هسې د يار شونډې لذت کا له دُشنام سره29

د قنبر علي په شاعرۍ کښې لکه د حميد بابا او کاظم خان شېدا د اعلي پايې نازکخيالي ده چې بنده ورته ځير شي نو ګوته په خُله ورته پاتې کېږي لکه چې په دې شعر کښې د محبوب د شونډو نازک توب په څومره فنکارانه طريقه بيانوي:

لکه آب چې ستا په لبو کښې ليدے شي
هغه آب ليدۀ په جام کښې د جم نهٔ شي
په هغو د مسيحا دم اثر نهٔ کا
څو ژوندي دا ستا د لبو په دم نهٔ شي30

په دې شعر کښې د سرو شونډو او سُور پېزوان نقشه ډېره په استاذۍ راکاږي چې:

سُور پېزوان دې په سرو شونډو هسې زېب کا
لکه سرۀ لمبه چې خېژي له سراجه
د شفا اثر پېدا د يار له لبو
شهد نهٔ کا فائده له بد مزاجه31

بل شعر دے

لب د يار آبِ حيات دي نهٔ ئې مومم
د زلفينو په ظلمات کښې ئې ګمراه کړم32

د سترګو يا چشمانو مضمون

د انساني وجود هره اعضاء ډېره اهمه وي خو سترګې په کښې منفرد مقام لري. د سترګو په ذريعه د حُسن ننداره کېږي، سترګې دي چې د دنيا نظارې پرې کېږي او د هر څيز مشاهده

کوي. قنبر علي خان د سترګو یا چشمانو مضمون په ډېر ښکلي انداز بیان کړے دے لکه چې وائي:

د غم زړے ئې وچاوده په زړۀ کښې
د چشمانو له سرپوښه ئې غم وُخت33

دغه رنګ په بل شعر کښې د محبوب ارادې د هغۀ د سرو سترګو نه داسې معلوموي:

له سُرخۍ ئې د چشمانو معلومېږي
چې ئې بیا په چا نیت کړے د ستم دے34

قنبر علي خان لکه د حمید بابا او کاظم خان شیدا ء په شان په خپل کلام کښې ډېر علامتونه، استعارې، تشبیهات او ترکیبونه د فارسۍ ژبې نه پکار کړي دي. لکه څنګه چې د وهشت له وجې هوسۍ په تُندۍ سره منډې وهي د دغه منظر مناسبت قنبر علي د یار د کتلو سره په ډېره اُستاذۍ سره ورکوي شعر دے.

چې مې سترګې په ژړا ژړا شي نم نم
د خاطر غبار مې شي ورسره کم کم
د یار سترګې هسې رم کوي له سترګو
لکه کا چې غزالان له مردم رم رم35

قنبر علي خان په کلام کښې د فني ښېګړو یعنې فني محاسنو نه هم ښۀ کار اخستے دے. فني محسن په شعر کښې پیچیدګي پېدا کوي ولې د اعلې پایې شاعر فني محاسن په داسې ډول پکاروي حې که څوک ئې په معنې پوهه هم نۀ شي ولې په واه واه ئې مجبوروي لکه چې قنبر علي وائي:

په خاطر مې هسې ستا د مینې شور دے
چې له سترګو مې روان دریائې شور دے
ستا د تورو سترګو تور به مې نور ولي
چې په تور زما تور شوے کلے کور دے
که ستا مینه څوک پېغور ګڼي دلبره!
ما په سترګو قبول کړے دا پېغور دے36

د خال و خط مضمون

د محبوب د خال او خط په حقله اکثرو شاعرانو ډېر شعرونه وئیلي دي. خوشحال بابا، رحمان بابا، حمید بابا وغېره نه علاوه قنبر علي خان هم په دغه روایتي مضمون خپل اس زغلولے دے لکه چې د خط په حقله وائي:

چې مضمون د باریک خط ئې معلوم نۀ کړ
ځکه غوڅ په تېغ د ژبې دا قلم دے37

بل شعر کښې د خال وخط سره زلفې هم په عجیبه انداز بیانوي:

نقش مې د زړۀ په مصحف زلفې د دلبر دي
خال وخط په مخ د یار نقطه زېر و زبر دي
خط د یار په مخ پېدا شي زۀ ورته حېران یم
څۀ عجب پېدا، په صېقل تورے جوهر دي38

بل شعر دے:

چې د یار په چمن خط راغے ملفوف
شُوم حېران په سرنامه د هر حروف
د دې خط په مطالع رسېدۀ ګران دي
دلته نۀ رسي د هر سړي وقوف39

د وروځو، ښو او مژګانو مضمون

په دې مضمون هم ډېرو شاعرانو خپل خپل کلام ښائسته کړے دے. چا ورته غشي، چا ورته لور، چا د لړم لکۍ، چا د اولې شپې سپوږمۍ او چا ورته د تېرو تُورو سره نسبت کړے دے. قنبر علي خان هم په دې مضمون خپل کلام رنګین کړے دے وائي:

چا کمان ستا د ابرو په لاس کښې واخست
چې ئې تیر د ښو نۀ شو په ځیګر مات40

کله کله ئې داسې بیانوي:

په ګرېوان به ئې خرمن د چمن کا
که پرې ګډ د وروځو لور کاندي پوهېږم
د غمزو له تُورو کله نجات مومي
که فلک په سر نسکور کاندي پوهېږم41

د مخ یا رُخسار مضمون

د رُخسار مضمون هم شاعرانو په ډېر ښائسته ډول بیان کړے دے. چا ورته د ځوارلسمې سپوږمۍ، چا د ګلاب، چا د چمن او چا د نمر سره تشبیه ورکړې ده. قنبر علي خان هم دغه روایت خپل کړے دے او د محبوب رُخسار ته ئې د اور سره تشبیه ورکړې ده. لکه چې وائي:

سر د زلفو شو په لور ستا د رُخسار کج
شي وېښتهٔ د اور له تاوه تار پا تار کج42

بل شعر دے:

په رُخسار ئې توري زلفې پیچ و تاب دي
له هر پیچه ئې پیدا ګل د ګلاب دي
مستحق یم که زکوٰة د حسن راکړې
سیم و زر دا ستا د مخ تېر تر کفاب دي43

بل ځائې کښې وائي:

زلفې پیچاپیچ په رُخسارونو د دلبر دي
یا که ښاماران پراته په ګنج د سیم و زر دي
نشته د نظر طاقت چې اورسي ستا مخ ته
ستا د مخ په تاؤ سره ئې سوي بال و پر دي 44

د خال مضمون

د خال مضمون هم د ډېرو شاعرانو د خوښې موضوع پاتې شوې ده او د محبوب په مخ ئې د خال ښائست په بېلابېل انداز کښې بیان کړے دے. چا خال ته حضرت بلال سره تشبیه کړے دے لکه چې حمید بابا د یار خال داسې ستایي:

دا په وچولي تور خال زما د یار دے
که اذان لره ختلے دے بلال45

ولې قنبرعلي خان ئې څهٔ بل رنګ ستایي او د جمشېد بادشاه پیالۍ سره ئې ورله تشبیه ورکړې ده چې ځانګړے حېثیت لري لکه چې وائي:

نمونه دا ستا له خاله جامِ جم دے
چې ښکاره په کښې احوال د کل عالم دے46

بل ځايې کښې څۀ نوے انداز ورکوي چې مثال ئې نۀ پېدا کېږي:
جاروتلے په ښۀ مخ د زلفو مار دے
که د خال مهره ئې ايښے په دومار دے
په پېوند د دواړو وروځو ئې خال کېښود
که برچې په مخ قبضه د ذوالفقار دے47
رندانه مضامين
اکثرو شاعرانو په خپل خپل کلام کښې رندانه يا خمريه شعرونه په ډېر ښکلي انداز کښې راوړي دي، چې د اوريدونکي يا لوستونکي احساسات او جذبات راپاروي. دا موضوع د صوفيانو شاعرانو په کلام کښې هم ډېره تر سترګو کېږي. په دغه لوازماتو کښې لکه ساقي، جام، پياله، شراب، مېخانه او مے وغېره شامل دي، چې لوستونکي ئې ډېره خوښوي. قنبر علي خان که هر څو په دروېشانه ټولګي کښې ژوند کړے دے ولې د عام او خاص اولس نباض هم پاتې شوے دے. د هغۀ په شاعرۍ کښې دغه مضمون يو جدا انداز لري لکه چې وائي:
چې خبر شم د ساقي د خُم له جوشه
په ما هم څۀ کرم وکړه مے فروشه
يو دې جام د ميو هله ساقي راکه
چې دماغ مې شي خالي له خامه هوشه48
او بيا په دغه شرابو کښې د ابدي ژوندون ننداره وينې. د کوم پېغام چې ورته سروش يعنې ليکونکي فرښتې ورکړے وي وړاندې وائي:
ابدي ژوندون موندے شي ستا له جامه
دا پېغام مې سحر بيامونډ له سروشه
دې رنځور زړۀ ته مې هغه شراب ورکه
چې ئې يو څاڅکے اثر لري له نوشه49
د قنبر علي په کلام کښې په دې موضوع د اعلي پايې شعرونه رقم شوي دي چې مثال نۀ لري لکه چې دا شعرونه ئې د کتو دي:
اچولے نوبهار په چمن شور دے
ساقي جام د مئيو واخله دور نور دے

د ګلزار حُسن چمن هسې رنګين کا
چې ئې ورکه تماشه دهلي لاهور دے50
بل شعر دے
چې داخل شُوم د ساقي په مېخانه کښې
د يار مخ مې ۀکېدو په پېمانه کښې 51
بيا وائي:
ساقي راکه خدا ے د پاره نور باده د عشق خُماره
ژوندون کله شي بې ياره فکر تۀ وکه هوښياره
له تهمته نۀ خلاصېږم خبر نۀ يم نۀ پوهېږم
د منصور په دود کاهېږم خپلې مينې کړم سنګساره52
غرض دا چې:

د قنبرعلي خان ټول کلام د حُسن و عشق په موضوع ښۀ سمبال دے. د عشقيه شاعرۍ ټول روايتي مضامين ئې په کښې ډېر په ماهرانه طريقه په نوي انداز کښې پکار کړي دي.

که يو اړخ ته هغۀ د صوفيانو په ټولګي کښې په نوراني طريقو کمال ته رسېدلے ۇ ولې بل طرفته ئې په کلام کښې د مجازي عشق واردات هم ترسترګو کېږي، چې د هغۀ اُستاذۍ او په آستاذي توب ګواهي ورکوي.

که هغۀ د صوفيانو په مجلس کښې ټول ژوند تېر کړے ۇ ولې تاريک الدنيا نۀ ۇ بلکې د خپل چاپېرچل ترجماني ئې په ډېر ښکلي انداز کښې کړې ده.

قنبر علي خان د خپل اولس يوازې ترجمان نا بلکې نباض هم ۇ چې د دغه زيرک توب پته ئې د شاعرۍ نه په ښۀ توګه لګي او په خپله شاعرۍ کښې ئې د عام اولس د زړونو خيال ساتلے دے. ځکه خو داسې وائي چې:

په رښتيا به زۀ د عشق شهيد هاله شم
که د يار د کوڅې خاورې مې کفن شي53

## References

[1] Hamish Khalil,dewan qambar Ali (Muqadama),Public Art press,Peshawar,January 1960 AD,p ط

[2] Dr,syed muqeel hussain,mutarjim, sahifa e anwarya, adan printers, Lahore,September 2018AD,p 386,390

[3] Hamish Khalil,dewan qambar Ali (Muqadama),p 71
[4] syed Hussain,kalam da qambar Ali Khan,kuram agency,16 December 1983 AD,p 145

[5] Dr,syed muqeel hussain,mutarjim, sahifa e anwarya,p21

[6] Dost Muhammad Khan Aw Qalandar Mumand,Da Rahman BABA Kulyat,Afghan Printers,Kabal,NY,p26

[7] Hamish Khalil,Dewan Qambar Ali Ali Khan,p6,7

[8] Ibd p7,8
[9] Ibd p 13

[10] Ibd p 13
[11] Ibd p 85

[12] ibd p 24,25
[13] ibd p 78
[14] ibd p 14
[15] ibd p 36
[16] Iqbal Naseem Khattak,da Rang o Boo qafila,metro printers,Lahore,july 1991AD,p 158

[17] Ibid p 106
[18] . Ibid p 13
[19] Ibid p17
[20] Ibid p 21
[21] Ibid p 4,5
[22] Ibid p 44
[23] Ibid p 84
[24] 87 Ibid p

[25] 58 ibid p
[26] ibid p 87
[27] Ibid p 75
[28] ibid p 56
[29] ibid p 40
[30] ibid p 84
[31] ibid p 22
[32]78ibid
[33] ibid p 12
[34] 95 ibid p
[35] ibid p 76
[36] ibid p 96
[37] ibid p 95
[38] ibid p 80
[39] ibid p 62,63
[40] ibid p 10
[41] ibid p 75,76
[42] ibid p 20
[43] ibid p 86,87
[44] ibid p 87
[45] Muhammad Asif samim,da abdul hmaeed kulyaat, Danish khparwandoya tolana,Peshawar,2nd E,2007,p 116

[46] Ibid p 95
[47] ibid p 106
[48] ibid p 55
[49] ibid p 55
[50] ibid p 90
[51] ibid p 57
[52] ibid p 41,42
[53] Hamaish Khalil , dewan e Qambar Ali Khan,p 83